# د ژبې ساخت: (Structuralism)

- لیونارډ بلوم فیلډ (Leonard Bloomfield-1887-1949) د ژبپوهنې له مخکښانو څخه یو دی، چې د ژبې و بېلا بېلو اړخونو ته یې د ژبې ساخت نوم ورکړ.

- دی وائي پکار ده چې د ژبې مطالعه له رغپوهنې (Phonetics) څخه پیل سي، او بیا فونولوژي (Phonology) ، صرف/ لغت پوهنه (ګړپوهه) (Morphology)، نحو (غونډله پوهه) (Syntax)، او پر مانا پوهنه (Semantics) پای ته ورسیږي.

- بلوم فیلډ وائي: د دې ډول څېړنه به ومونږ ته د ژبې د ساخت په هکله ډېر څه را وښیي.

# د ژبې ساخت: (Structuralism)

## ۱ – ږغپوهنه (سپنپوهه): (Phonetics)

- ټولني انساني ژبي له (سيوايې له علامتي ژبو) له ږغونو څخه په داسي طريقه رغېدلې دي چي دوی يا خو ماناوي(meanings) يا احساسات (feelings) او رويې (attitude) لېږدوي.
- تر ټولو له مخه ږغونه را مينځته کيږي. يعني کله چي ليکدود نه وو اختراع (Invented) سوی، د ژبو ږغونه موجود وو.
- يعني ژبه له اوازونو / ږغونو څخه جوړه شوې ده. د دې اوازونو څېړنه / مطالعه ته ږغپوهنه / سپنپوهه وئيل کيږي.
- د ژبپوهني په دی برخه کښي د اوازونو جوړښت يا پيداکيده (production) او بيانول (description)څېړل کيږي. چي و دې ته ږغپوهنه وائي.

# د ژبې ساخت: (Structuralism)

- فونولوژي: (Phonology)
- د ږغونو / اوازونو له پیداکېدو وروسته، د دې ږغونو د ترتیب کېدو نظام – چې دا ږغونه په یوه ژبه کښې څنګه ترتیب او منظم کېږي – تر څېړنې لاندې نیول کېږي.
- فونولوژي د یوې ژبې د ږغونو د ساخت او ترتیب و تنظیم مطالعه ده.
- د ژبپوهنې و دې څانګه ته فونولوژي وئیل کېږي.

- The study of how these sounds are arranged in a language, i.e. the sound pattern of a language, is called Phonology. (Tariq Rahman)

# د ژبې ساخت: (Structuralism)

- صرف / ګړپوهه / مورفولوژي :(Morphology)

- د صرف / ګړپوهه اساسي مقصد دا دی چې توري څنګه جوړېږي او څه تړون سره لري.
- د مورفولوژي اصطلاح له دوو یوناني تورو – مورف (Morph) (چې مانا یې هیت او ترکیب دی) او لوګوس (Logos) (چې مانا یې علم او پوهنه ده) څخه جوړه شوې ده.
- کله چې په فونولوژي کښې بږغونه یو ځای و تړل سي، له دې څخه د مانیزوارړه یونټونه جوړ سي، چې مورفیم بلل کیږي.
- د تورو د جوړښتونو او بڼو (shapes) و څېړنو ته صرف / ګړپوهه ویل کیږي.
- The study of how words are made (i.e. the shapes of words) is called Morphology. (Tariq Rahman)

# د ژبې ساخت: (Structuralism)

- نحو/ غونډله پوهه: (Syntax)
- کله چې له تورو څخه جملې جوړې شي، دا جوړښتونه د منل شوي ګرائمري اصولونو په رڼا کښې تر سره کيږي.
- و دغه اصولو ته نحوه ويل کيږي.
- هر کله چې يو څېړونکی د يوې جملې جوړښت او ترکيب معلومول غواړي، هغه کولی سي د يادې ژبې نحوه مطالعه کوي.
- په لنډه توګه هغه ټول ګرائمري اصولونه چې د يوې جملې په بشپړه کولو کښې برخه لري، نحوه / غونډله پوهه بلل کيږي.

# د ژبې ساخت: (Structuralism)

## پر مانا پوهنه (Semantics)

- مانا پوهنه د جملو او محاورو و مانا سپړلو ته وائي.
- لکه موږ په نحو کښې جملې جوړې کړې. دا جملې به ارو مرو یوه مانا یا مقصد لیږدوي.
- د مانا پوهنې، لکه له نامه څخه ښکاره ده، وظیفه دا ده چې د جملو مانوي معلومې کړي.
- زیاتره ژبپوهان د ژبې د څېړنې د پاره دغه څلور اړخونه مهم ګڼي، خو ځینې له دې یو بل (پینځم) زیاتوي، چې پریګمیټکس (Pragmatics) بلل کیږي.

# د ژبې ساخت: (Structuralism)

## پرېګمېټېکس :(Pragmatics)

- ځيني ژبپوهان دا اړخ هم په مانا پوهنه کښې ګڼوي.
- د پرېګمېټېکس مطلب دا دی چي خلک د ژوند په رښتني حالتونو کښې ژبه څنګه کاروي.
- يا په ورځيني موقعيتونو کښې څنګه خبرې اترې کوي.
- دا رنګه د پرېګمېټېکس مانا د نه ليدونکي مانا (invisible meaning) څېړنه ته وائي.
- د مثال په توګه: که يوه څوک په ګرمي کښې دا ووائي، نن ډېر يخ دی. د دې مانا به د هغه وخت په چاپيريال کښې کتل کيږي.